



الغرافه

Al-Gharrafah Foundation

الشيخ علي بن عبدالله ثاني جاسم الثاني

Sheikh Ali Bin Abdullah Thani Jasim Al Thani

سال تاسیس: ۱۳۹۳

# په افغانستان کې د الغرافي قطري خيريه مؤسسې فعاليتونه

بسم الله الرحمن الرحيم

شیخ علی بن عبد الله آل ثاني د قطر د
سلطنتي کورنۍ غړی، په ۱۹۵٦م کال کې د
قطر په هېواد کې زیږېدلی دی.
نوموړي په ۱۹۸۱م کال کې په اقتصاد او
سیاست کې خپلې زده کړې د امریکا په
دولتي پوهنتون پورتلند کې ترسره کړې دي.
نوموړی د قطر د نومیالیو تاجرانو څخه
شمېرل کېږي او د خیریه کارونو، املاکو،
کرنیزو محصولاتو او د پاګونې په برخو کې
یې اغېزمن ګامونه پورته کړي دي.
نوموړی د الغرافه خیریه ټولنه په ۱۳۹۳ هـ ل
کال د افغانستان د بیارغونې او ددې هېواد له
وګړو سره د مرستې په موخه تأسیس کړې ده.



د الغرافي قطري خیریه مؤسسې خپل جواز د
غیر دولتي او غیر انتفاعي مؤسسې په توګه د
(۴۰۸) پرېکړې او د غیر دولتي مؤسساتو د عالي
کمیسون د منظورۍ په اساس په ۳/۲/۱۳۹۳هـ
ل نیټې کې ترلاسه کړ.
د الغرافي خیریه مؤسسه د شیخ علي بن عبد
الله ثانی - د سلطنتي کورنۍ غړي- ملکیت دی
او د نوموړي د مالي ملاتړ څخه برخمنه ده، چې
د جواز د اخیستلو څخه وروسته یې سمدلاسه
په افغانستان کې خپل فعالیت پیل کړ.

د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په افغانستان کې په لاندې برخو کې فعالیتونه ترسره کړي دي:

پوهنه او معارف، روغتیايي څارنه، زراعت او مالداري، چاپېریال ساتنه، هستوګنځي جوړول او انساني خواخوږی.

د الغرافه- د قطر خیریه ټولنې په خوشحالخان مینه کې د اړمنو کورنیو لپاره (٧٦٨) هستوګنیز اپارتمانونه ودان کړي دي.

د الغرافه- د قطر خیریه ټولنې په ٢٠٢٠ز کال کې د افغانستان د عامې روغتیا له وزارت سره د کرونا وایروس سره د مبارزې په پار د ډول ډول روغتیایي توکو مرسته کړې ده.

د الغرافه- د قطر خیریه ټولنې په فراه ولایت کې د ٢٠١۴ز کال څخه تر اوسه پورې له ٢۵ ډېر جوماتونه، ٧ ښوونځي، ٢ روغتونونه، ورکتون، د فراه ولایت هوايي ډګر او داسې نورې پروژې تطبیق کړې دي.

ددې تر څنګ، د الغرافي خیریه مؤسسې یو لوی کرنیز ځېړنیز فارم تأسیس کړی دی.

او د لومړي ځل لپاره یې فراه ولایت کې د خرما د ونو کښېنول په ٢٠١۴ز کال کې پیل کړل، چې د الله تعالی په فضل سره یې ښه پایله درلوده. او د خرما دیرش زره بوټې چې د الغرافي خیریه مؤسسې له خوا کښېنول شوي وو، اوس په ثمر راغلي دي.

د خرما د ونو تر څنګ د الغرافه خیریه ټولنې د پستې، انارو، سنځلی، زیتون او انګورو د ونو په روزنه او کښېنولو پیل وکړ، چې ډېرې ونې یې په ثمر راغلې دي.

همدارنګه د الغرافه خیریه ټولنې د چاپېریال د ساتنې ملي ادارې په مرسته د هغو ژوو او ښارویو لپاره یو فارم جوړ کړ چې نسل یې د ګواښ سره مخ دی.



# د قطر استوګنيز ښارګوټی





د هغه تړون پر بنسټ چې د الغرافي قطري مؤسسې او د افغانستان د ښارجوړولو او ځمکو وزارت تر منځ لاسليک شويدی، د الغرافي قطري مؤسسه دې ته ژمنه ده چې د اړمنو کورنيو لپاره يو هستوګنيز ښارګوټی ودان کړي. دا ښارګوټی د هستوګنيزو کورونو د کموالي، مدرن ساختماني دود سره د آشنا کېدو او په ساختماني چارو کې نړيوال ستندردونه په نظر کې نيولو په پار ودانيږي.



د قطر هستوګنيز ښارګوټی د خوشحالخان مينې سيمي، مرکزي سيلو ته څيرمه جوړيږي، چې مساحت يې (٦٩٠٤٥) متره مربع دی. په دې ښارګوټي کې هستوګنيز بلاکونه، تجارتي بلاکونه، ښوونځی، جومات، يو دارالايتام، د نقليه وسايطو پارکينګ، شنه ساحه او د ښارګوټي نور د اړتيا وړ ودانۍ شتون لري. ددې ښارګوټی سايټ پلان د ښارجوړونې عالي شورا او د افغانستان د ښارجوړونې او ځمکو وزارت له لوري تصويب شوی دی.

# لومړی بلاک





په دی ښارګوټی کې اته دولس پوړیزه بلاکونه جوړیږي چې په هر بلاک کې به ۹۶ (۲ اطاقه او ۳ اطاقه) اپارتمانونه شتون ولري. د هر بلاک مساحت ۹۴۹,۳۳ متر مربع دی، چې په دې توګه په دې ښارګوټي کې ټولټال ۷۶۸ هستوګنیز اپارتمانونه جوړیږي. چې ۲۰۲۱ ز کال کې د دریو هستوګنیزو ودانیو کار د دریو ساختمانی شرکتونو له خوا پیل شو.


دوهمه بلاک


دریمه بلاک





# په کابل ښار کې د قطر د هستوګنیز ښارګوټي د کار له بهیر څخه د شیخ علي بن عبد الله الثاني لېدنه



په دي ښارګوټي کې به تجارتي مرکزونه
او برجونه هم شتون ولري.
تجارتی مرکزونه به په پنځه پوړیزه
او برجونه به په اوه پوړیزه ودانیو
کې جوړېږي.
په تجارتي مرکزونو کې به د
خرڅلاو پر ځایونو سربېره،
سپورتي ځایونه، د ماشومانو د
لوبو ځایونه او نوري
اړوند برخی
شتون ولري.







د قطر په ښارګوټي کې یو درې پوړیزه جومات د ۸۱۹ متره مربع په مساحت لرلو سره ودانیږي چې په یوه وخت کې به د ۲۰۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت ولري.

دا جومات به یوه مناره، ګنبد، د اوداسه ځای او ۱۰ تشنابونه ولري.

ددې ترڅنګ د الغرافي مؤسسې د جومات لپاره د فرش اخیستل او د جومات نور اړوند وسایل تیارول هم په غاړه اخیستي دي.

د نجونو او هلکانو دوه درې پوړیزه ښوونځی به په ۵۷۷ متره مربع ځمکه کې جوړیږي چې د میزونو، چوکیو او تعلیمی تجهیزاتو تر څنګ به د لوبو میدان، ازمېښتون، د کمپیوټر خونه، کتابتون، د ښوونکو خونه او د مدیریت خونې هم ولري.









# د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت کلتوري مجتمع





د الغرافي خيريه مؤسسې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د غوښتنی سره سم ددې وزارت په انګړ کې د يوه جومات او د کلتوري ودانۍ جوړونې کار پيل کړ.

د کلتوري ودانۍ مساحت ۸۷۰ متره مربع دی چې په دوه پوړونو کې جوړه شوې ده. په دې کلتوري ودانۍ کې ورکتون (د ماشومانو لپاره تشنابونه، د ماشومانو لپاره درسي خونې، دښوونکوخونې، د لوبو ميدان لرلو سره)، د ستراتيژيکو څيړنو مرکز، د ډيپلوماسۍ انستيټوټ لپاره درسي ټولګي، د نندارتون صالون، د کنفرانس صالون، اداري خونې، معياري کتابتون او داسې نور شتون لري.

همدارنګه کلتوری مجتمع په تهکو کې يو پارکينګ چې تر ۳۰۰۰ ډېر ګاډي پکی ځاييږی شتون لري.



# د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت جومات



د بهرنيو چارو وزارت جومات ۳٦۰۰ متره مربع مساحت لري چې په يوه وخت کې د ۳۰۰ لمونځ کونکو ظرفيت لري چې د نارينه وو او ښځينه وو لپاره د اوداسه ځانګړي ځايونه لري.
پر ددې سربېره په دې جومات کې يو کتابتون او د امام لپاره يوه خونه شتون لري.
همدارنګه دا جومات يوه مناره، يو ستر ګنبد او درې وړې ګنبدې لري.








# د فراه ولایت
# نړیوال
# هوایی ډګر




د
ا لغر ا فـي
خیریـه مؤسسـې
پـه فـراه ولایـت کـې
ډول ډول عـام المنفعـه
پـروژې سرتـه رسـولې دي.
د الغرافـې مؤسسـه هغـو پـروژو تـه اولویـت
ورکـوي چـې باثباتـه اقتصـادي پراختیا رامنځ تـه کوي.
ددې موخـې د لاسـته راوړلـو لپـاره، د الغرافـې خیریـه
مؤسسـې د افغانسـتان د ملکـي هوایـي چلنـد لـه ادارې سره یـو تفاهـم لیـک
لاسـلیک کـړی دی، تـر څـو د هوایـي چلنـد خدمتونـه معیـاري شي او د هوایـي زیـر بنـاوو پراختیـا د نړیـوال معیـار
او سـتندرد سره سـمه برابـره شي، چـې پـه دې توګـه بـه لـه یـوې خـوا د هوایـي حمـل او نقـل سـتونزې راکمـې شي او لـه
بلـې خـوا بـه د هېـواد اقتصـادي سیسـتم لا پیـاوړی شي.ددې تفاهـم لیـک او د افغانسـتان د دولـت د غوښـتنې پـه اسـاس
د الغرافـې مؤسسـه ژمنـه ده چـې د فـراه ولایـت د هوایـي ډګـر پاتـې برخـې ورغـوي او اړیـن وسـایل یـې برابـر کـړي.



د شمال پـه لـور د (۳۰۰/۳۵) مـتره پـه اوږدوالي سره د رنـوې خـط بسـتېزه پراختيـا لـه دوه اړخونـو تـرن پـټ سره، د جنوب پـه لـور پـه(۵۰۰/۳۵) مـتره در رنـوې خـط بنسـتېزه پراختيـا د شـولدر او تـرن پـټ سره، دريناج پـه ۵۰۰ مـتره اوږدوالي سره، او نښـلوونكي سركونـه پـه ۵۳۰ مـتره اوږدوالي او ۵ مـتره عـرض سره او يـو سرک پـه ۱۰۰ مـتره اوږدوالي او ۸ مـتره عـرض سره پـه اسـاسي ډول بشپړ شـوي دي.

د ودانـۍ شـاته د وسـايطو پاركينـگ جـوړول، ماركينـگ (نښـانی لگـول) د (رنـوی خـط، تكسـيوی، اپـرون، نښـلوونكي سركونـه)، پـه ۱۰۱۹۲ مـتره مربـع مسـاحت سره، د فينس كارونـه، هيسـكو، د احاطـې ديـوال، پلچكونـه، دكتونـه، د هوايـي ډگـر د رنـوې خـط منهولونـه او د ترمينـل د مخـې ډكـون او تپـت كـول د تفاهمنامـې مطابـق سرتـه رسـيدلي دي.













د نـوي ترمينـل پـه يـوه پوړيـزه ودانـۍ کـې دوه سـالونونه (د ننـه او بهـر)، ښـځينه او نارينـه تشـنابونه، د راتلوونکـو مسـافرو لپـاره دننـه او بهـر صالـون، يـو (وي آی پـي) صالـون، د پاسـپورټونو د پلټنـې صالـون او د بريښـنا او اوبـو مکمـل سيسـتم پـه نـوې او مدرنـه بڼـه شـتون لـري.

پـه همـدې ډول څلـور پوړيـزه څارگر ټـاور چـې د خونو، تشـناب، او پخلنځـي لرونکـی دی پـه اساسـی بڼه ودان شـوی دی.






د الغرافي خيريه مؤسسې د هوايي ډګر د بيارغونې په لړ کې دا اړينه وبلله تر څو
د اطفايې (اور وژنې) د سيستم لپاره يوه ودانۍ جوړه کړي.
په دې ودانۍ کې د اور وژنې د کارکوونکو لپاره خونې، تشنابونه، پخلنځی، اداري
دفترونه، د اور وژنې د موټرو او د مسافرينو لپاره پوړۍ لرونکو موټرو لپاره پارکينګ
او د اور وژنې د وسايطو د ترميم لپاره د ورکشاپ خونه شتون لري.



د الغرافي خيريه مؤسسې د فراه ولايت هوايي ډګر د بيارغونې په لړ کې د اروپايي هېوادونو څخه نوي او مدرن تجهيزات پېرلي او د هوايي ډګر رياست ته يې سپارلي دي.
په دې تجهيزاتو کې، د اطفايي موټر، ۲۰۰ کيلو واټه جنراتور، د کاشي مينځلو دوه ماشينونه، د مسافرينو د وسايلو د ليږد لپاره پټۍ لرونکي موټر، تله، دوه کاونټرونه، د مسافرو د وسايلو د پلټنې لپاره دوه سکنرونه او د مسافرو د پلټنې لپاره دوه سکنرونه شتون لري.



















د الغرافـي خيريـه مؤسسـي د مسـافرينو او د هوايـي ډگـر کارکوونکـو لپـاره يـو جومـات د اوداسـه ځـای په لرلـو سره عمومـی ترمينـل تـه ثيرمـه جـوړ کـړ، چـې د تعميـراتي کارونـو لـه سرتـه رسـولو وروسـته، پـه سـونډ سيسـتم او ښـه فـرش سره سـينگار شـولو.



د الغرافي خيريه مؤسسې د هوايی ډګر په قره ول کې د امنيتی ساتوونکو لپاره يوه ودانۍ جوړه کړې ده.



د الغرافي خيريه مؤسسې د فراه ولايت د هوائی ډګر رياست د غوښتنی په اساس د ۳۹۰ متره اوږدوالي په لرلو سره يو سرک له ترمينل څخه تر عمومي سرک پوری پوخ او قير کړ.





# د فراه ولایت د روږدو شوو (معتادینو) د درملنې روغتون



د افغانستان دولت له لوري د الغرافي خیریه مؤسسې څخه غوښتنه وشوه تر څو د روږدو شوو کسانو لپاره یو روغتون جوړ کړي. نو په دی توګه د نشه یې توکو سره د مبارزی وزارت د ډیزاین د ټیم له لوري د اړونده نقشو د تیارولو څخه وروسته د الغرافي مؤسسې ددې پروژې کار پیل کړ.

ددې یوه پوړیزه روغتون ټولټال مساحت ۱۰۰۰ متره مربع دی، چې په یوه وخت کې د ۱۰۰ ناروغانو د بسترولو ظرفیت لري.

ددې روغتون په ودانۍ کې ۲۰ تشنابونه، د سپټیک ځاه، اداري ځانګه، د ډاکترانو خونه، استقبالیه، د ساتونکو خونه، د جنراتور خونه، د اوبو کانکریټي ذخیره، د فوټبال میدان لپاره شنه ساحه او د بریښنا لپاره لمریز (سولر) سیستم شتون لري.

د یادونې وړ ده چې ددې روغتون د احاطې دیوال د ۲۸۰ متره په اوږدوالي سره د الغرافي خیریه مؤسسې له لوري د یوی جلا پروژې په توګه جوړ شوی دی چې د ۲۰۱۶ز کال په لومړیو کې د فراه ولایت د روغتیا ریاست ته وسپارل شو.









# د فراه ولایت د مهاجرینو د ښارګوټي روغتون



دا یو پوړیزه روغتون د فراه ولایت مرکز کرجي کلي اړوند مهاجرینو ښارګوټي کې موقعیت لري. ددې روغتون ټولټال مساحت ۵٦۵ متره مربع دی چې په یوه وخت کې د ۲۰ ناروغانو د بسترولو ظرفیت لري.

د دې روغتون په ودانۍ کې ٦ صحي تشنابونه، سپټیک څاه، د ساتوونکو خونه، دجنراتور خونه، د اوبو کانکریټي ذخیره او د احاطې دیوال ۲۲۰ متره په جګوالی سره شتون لري.

ددې پروژې کار د ۲۰۱۵ ز کال په وروستیو کې سرته ورسید او د فراه ولایت د عامې روغتیا ریاست ته وسپارل شو.







# هلکانو لپاره د فراه ولایت د سنگ زور ښوونځی



د هلکانو لپاره د سنگ زور دوه پوړیزه ښوونځی د فراه ولایت اړوند سنگ زور په کلي کې موقعیت لري چې د ۱۲ ټولگیو، کمپیوټر خونې، لابراتوار او هر پوړ کې د یو دهلیز لرونکی دی.
ددې ترڅنگ د الغرافي مؤسسې له خوا ددې ښوونځی لپاره ټول اړین تدریسي توکي لکه: فرنیچر، چوکۍ، میز، لابراتوار، درسي میزونه او داسې نور چمتو شوي دي.
دا د دولسو ټولگیو لرونکی ښوونځی د ۱۳۹۵ ل تعلیمي کال په پیل کې پرانستل شو او د فراه ولایت د معارف ریاست ته وسپارل شو.







# د فراه ولایت د قلعه ارباب د نجونو ښوونځی



د قلعه ارباب د نجونو دوه پوړيزه ښوونځی د دولسو درسي خونو سربېره د کمپیوټر خونه، لابراتوار، اداره، په هر پوړ کې یو دهلیز، ٦ تشنابونو، سپټیک څاه، د څښلو د اوبو څاه او د احاطې دیوال لرونکی دی.
دا د دولسو ټولگیو لرونکی ښوونځی د ۱۳۹۴ ل تعلیمي کال په پیل کې پرانستل شو او د فراه ولایت د معارف ریاست ته وسپارل شو.







# د فراه ولایت د ملا عثمان نیکه ښوونځی



د هلکانو لپاره د ملا عثمان نیکه ښوونځی د فراه ولایت بالابلوک ولسوالۍ د ملا عثمان نیکه په کلي کې موقعیت لري چې په هر پوړ کې دولس درسي خونې، کمپوټر خونه، لابراتوار، اداره او یو دهلیز لري.

ددې ترڅنګ د الغرافي خیریه مؤسسې ددې ښوونځی لپاره نور اړین تدریسي توکي لکه: فرنیچر، چوکۍ، د لابراتوار میز، درسي میز او داسې نور اخیستي دي.

دا ښوونځی د دولسو درسي خونو په لرلو سره د ۱۳۹۹ل تعلیمي کال له پیل سره سم پرانستل شو او د فراه ولایت د معارف ریاست ته وسپارل شو.








# د فراه ولایت د چاکرته کلي ښوونځی







د چاکرته کلی یو پوړیز ښوونځی چې د فراه ولایت دشت چاه کرته کلی کې موقعیت لري د شپږو درسي ټولګیو، مدیریت خونې، یوه تشناب او سپټیک څاه لرونکی دی.
ددې تر څنګ د الغرافې مؤسسې ددې ښوونځی لپاره نور اړین تدریسي توکي لکه: فرنیچر، چوکۍ، درسي میز او داسې نور هم اخیستي دي.
دا ښوونځی د دولسو درسي ټولګیو په لرلو سره د ۱۳۹۹ل تعلیمي کال له پیل سره سم پرانستل شو او د فراه ولایت معارف ریاست ته وسپارل شو.

# د فراه ولایت مرکز کې د استقلال وړکتون



د فراه ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست له غوښتنې سره سم د الغرافې خیریه مؤسسې د فراه ولایت ښار اړوند په لومړی ناحیه کې یو وړکتون جوړ کړ، چې شنې سیمی، لوبو میدان، درسي خونې، د ډوډۍ خوړلو خونه او اداري خونه پکی شتون لري.

همدارنگه ددې وړکتون د جوړېدو سره سم د فراه ولایت د کار او ټولنیزو چارو ریاست د غوښتنې پر بنسټ د الغرافې خیریه مؤسسې ددې وړکتون د احاطی دیوال د ۱۳۰ متره اوږدوالي سره جوړ کړ.












د الغرافي قطري خيريه مؤسسي د افغانستان له دولت سره د خپلو کارونو په لړ کې د فراه ولايت مقام د احاطي ديوال لګښت چې ۱۱۴۰ متره اوږدوالي لری په غاړه واخيست.

دا ديوال له ټيګو او پخو خښتو څخه جوړ شوې دی چې عرض يی ۵۰ سانتی متره او جګوالی يی ۴ متره دی.

ددی تر څنګ پر دی ديوال باندی د ساتونکو ۸ ټاورونه جوړ شوې دی.

# د فراه ولایت ښار جامع جومات



د فراه ولایت ښار دوه پوړیزه جامع جومات د الغرافي خیریه مؤسسي له خوا په ۳۴۰۰ متره مربع مساحت کې جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۶۰۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري او د دوه منارو او یو ګنبد لرونکی دی.

د یادوني وړه ده چې د جومات پخوانۍ ودانۍ پر خپل ځای پاتې ده او د جومات نوې ودانۍ په جلا ځای کې جوړه شوې ده.

همدارنګه د الغرافي خیریه مؤسسي ددې جومات لپاره فرش او نور اړین توکي د ۵۰ زره ډالر په ارزښت سره پر غاړه واخیستل.








# د اشرف آباد جامع جومات





د اشرف آباد جامع جومات د فراه ولايت ښار پنځمې ناحيې اړوند د اشرف اباد سيمه کې موقعيت لري. دا جومات ۱۰۰ متره مربع مساحت لري چې په يوه وخت کې د ۲۰۰ لمونځ کوونکو ظرفيت لري.

په دې جومات کې دوه منارې، يو گنبد او د اوداسه ځای شتون لري.

ددې تر څنګ د الغرافي خيريه مؤسسې د جومات لپاره نور اړين توکي لکه: فرش او داسې نور هم پر غاړه واخيستل.





# د الهدی جامع جومات









د الهدی جامع جومات د فراه ولایت اړوند په څلورمه ناحیه کې موقعیت لري چې د جوړولو کار یې د ځایي اوسیدونکو له لوري پخوا پیل شوی ؤ، خو د اقتصادي ستونزو له کبله یې کار ټکنی شوی ؤ.

نو د الغرافي خیریه مؤسسې ددې جومات پاتې کارونه لکه: گچ، رنگ، پلستر، یو متر جگوالي سره سنگ کاري، کانکریټ، شیب بندي، د چت ایزوگام، د ۵۰ کسانو لپاره د اوداسه ځای، ۹حمامونه او ۱۳ تشنابونه، سرته ورسول.

# د فراه رود جامع جومات



دا جومات د بالابلوک ولسوالی اړوند د فراه رود کلی په بازار کې د ۷۶۰ متره مربع مساحت لرلو سره جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۲۰۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

په دې جومات کې دوه منارې چې ۱۱ متره جګوالی لري، لس تشنابونه، د اوداسه ځای او د سپټیک څاه شتون لري.







# د لاش و جوین جامع جومات



د لاش و جوین جامع جومات د فراه ولایت اړوند لاش و جوین ولسوالۍ کې موقعیت لري چې د جوړولو کار یې د ځایی خلکو له لوري پخوا پیل شوی ؤ خو د اقتصادي ستونزو له کبله یې کارونه پوره نه شول.


نو د الغرافې مؤسسې ددې جومات پاتی کارونه لکه دوه منارې، د ۱٦ متره جګوالي سره، کانکریټی انګړ، د احاطې دیوال، د لومړي او دوهم پوړ دننه کارونه لکه: پلستر، ګچ، رنګ، سرامیګ، برق، نلدواني او داسې نور اړین کارونه ترسره کړل. ددې ترڅنګ د الغرافې خیریه مؤسسې ددې جومات لپاره ۱۰۵۰ متره مربع فرش هم اخیستی دی.







# د شیب کوه جامع جومات



د شیب کوه جامع جومات د فراه ولایت شیب کوه ولسوالۍ اړوند قرین کلي کې جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۱۸۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

ددې ترڅنګ دې جومات کې د اوداسه ځای، ۶۰۰ متره مربع تخت چې په موزایکو او د مرمرو په تیږو پوښل شوی دی، له ۲۸۰ متره اوږدوالي سره د احاطې دیوال او د امام لپاره خونه پکې شتون لري.







# د خلفاې راشدین رضي الله عنهم جومات





دا جومات د فراه ولایت مرکز اړوند سنگ زور کلي کې جوړ شوی دی چې په یوه وخت کې د ۴۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

ددې تر څنگ د خلفاې راشدینو رضي الله عنهم جومات ۱۲ متره جگوالي سره یوه مناره، گنبده، ۳ تشنابونه، د اوداسه ځای او د سپټیک ځاه هم لري.

همدارنگه د الغرافي خیریه مؤسسې ددې جومات لپاره ۱۷۵ متره مربع قالینه، امپلي فایر او دوه د جومات دننه او دوه د جومات نه د باندې لوډسپیکرونه اخیستي دي.






# د شمالگاه جامع جومات









د شمالگاه جامع جومات د ۴۶۰ متره مربع مساحت په لرلو سره د فراه ولایت مرکز اړوند شمالگاه کلي کې جوړ شوی دی چې په یوه وخت کې د ۸۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

دا جومات یوه مناره ۱۰ متره جگوالي سره، ۴ تشنابونه، د اوداسه ځای او د سپتیک څاه هم لري.

# د تجک جامع جومات





دا جومات ۴۵۲ متره مربع مساحت لرلو سره د فراه ولایت د تجک په کلي کي جوړ شوی دی، چي په یوه وخت کي د ۸۰۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري د یادوني وړ ده چي د تجک جومات یوه ۱۵ متره مناره، د اوداسه ځای او د سپټیک ځاه هم لري.





# د تویسک جامع جومات



د تویسک جومات د فراه ولایت تویسک کلی کې جوړ شوی دی.

ددې جومات چارې د ځایې اوسیدونکو له لوري پخوا پیل شوې وې، خو د اقتصادي ستونزو له امله یې چارې نیمګړې پاتې وې، چې د الغرافي د مؤسسې له لوري دا کارونه بشپړ شول.







د الغرافي مؤسسې د دې جومات ګچ کاري، رنګ، د چت ایزوبام، یو تخت د (۱۰*۱۵) متره مربع مساحت سره، د اوداسه ځای، تشناب او د یوې ژوري څاه او یوی نیمه ژورې څاه کیندلو چارې سرته ورسولې.

# د تویسک بالا جومات



دا جومات د فراه ولایت مرکز اړوند د تویسک بالا په کلي کې په ۲۴۳ متره مربع مساحت کې جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۴۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

په دي جومات کې ۴ تشنابونه، ۱۵ متره مناره، ژوره څاه او د اوداسه ځای شتون لري.







# د تویسک پایین جامع جومات







دا جومات د ۴۵۵ متره مربع مساحت سره د فراه ولایت مرکز اړوند د تویسک پایین کلي کې جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۸۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.
په دې جومات کې یوه مناره، ۴ تشنابونه، د اوداسه ځای او د سپټیک څاه شتون لري.



# د کوشه کلی جومات



دا جومات د ۲۷۳ متره مربع مساحت سره د لاش و جوین ولسوالۍ اړوند کوشه کلي کې جوړ شوی دی، چې په یوه وخت کې د ۴۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري.
په دې جومات کې ۳ تشنابونه، د اوداسه ځای او د سپټیک څاه شتون لري.







# د کوه تکه جومات



د الغرافي مؤسسي له لوري د کوه تکه جومات په ۲۵۰ متره مربع مساحت کې د فراه ولایت اړوند کوه تکه کلي کې جوړ شوی دی. دا جومات په یوه وخت کې د ۱۰۰ لمونځ کوونکو ظرفیت لري چې د ۱۵ متره په جګوالي سره یوه مناره، د اوداسه ځای او یو د اوبو څاه پکې شتون لري.







# د فراه پوهنتون جومات



د فراه ولایت د مقام د غوښتني پر اساس د الغرافي خیریه مؤسسي د فراه ولایت د پوهنتون په انګړ کي یو پوړیز جومات د اوداسه له ځای سره په ۳٦۰ متره مربع مساحت کي جوړ کړ.







# د فراه ولایت د دولتي میلمستون جومات









د الغرافي مؤسسي د فراه ولایت د مقام د غوښتني پر اساس د فراه ولایت د دولتي میلمستون په انگړ کي یو پوړیز جومات په ۱۲۰ متره مربع مساحت کي جوړ کړ.

# قلعه زمان جومات لپاره د اوداسه ځای



د الغرافي خيريه مؤسسې د فراه ولايت اړوند قلعه زمان د کلي د جومات لپاره په ۱۰۰ متره مربع مساحت کې دوه پوړيزه د اوداسه ځای د اوبو له ذخيرې سره جوړ کړ.

ددې ترڅنګ د الغرافي خيريه مؤسسې ددې جومات لپاره يو حمام، د سپټيک څاه او ۲۰ تشنابونه هم جوړ کړل.

سربېره پر دې ددې پروژې نور اړوند کارونه لکه: دننه او بهر ګچ کاري، سراميک، رنګ، د پاکو اوبو او فاضلو اوبو سيستمونه، المونيمي دروازې او د اوبو ذخيرې چارې د الغرافي خيريه مؤسسې له لوري سره ته ورسيدې.







## د حضرت عثمان رضي الله عنه د جومات لپاره **د اوداسه ځای**







د حضرت عثمان رضی الله عنه جومات چې خلک يې د مولوي فياض جومات په نوم پيژني، د فراه ولايت اړوند څلورمه ناحيه کې موقعيت لري.

دا جومات چې پخوا د ځايي اوسيدونکو له لوري جوړ شوی ؤ، خو د اقتصادی ستونزو له کبله يې ځينی کارونه پاتي وو، چې د الغرافي مؤسسې له لوري سرته ورسيدل.

د الغرافي خيريه مؤسسې ددې جومات لپاره د اوداسه ځای سربېره ۸ تشنابونه، د طالب العلمانو لپاره يوه خونه، د ښځو اوبو څاه او د فاضلو اوبو څاه جوړ کړل.



# د فراه ولایت مرکزی جامع جومات د امام لپاره د کور جوړول









وروسته له دی چې د الغرافي خيريه مؤسسې د فراه ولايت مرکزي جامع جومات جوړ کړ، د ځايي اوسيدونکو د غوښتنی پر اساس يې د جومات د امام لپاره يو کور جوړ کړ، چې يوه خونه، دالان، پخلنځی، حمام او يو تشناب پکې شتون لري.

# د هرات ولایت د هوايي ډګر جامع جومات

د هـرات ولايـت د هوايـی ډګـر د رياسـت د غوښـتني پـر اسـاس د الغرافـي مؤسسـې پـه ۲۰۱۶ز کال کـې د هـرات ولايـت د هوايـي ډګـر د جومـات د بيارغونـې چـارې او ددې جومـات د بيـروني نمـا جوړنـی لګښـت پـه غـاړه واخيسـت.



# د نیمروز ولایت اړوند د ابراهیم خلیل الله جامع جومات

د ابراهيـم خليـل اللـه جامـع جومـات د نيمـروز ولايـت زرنـج ښـار اړوند د عربانـو پـه کلي کـې پـه ۷۸۰ مـتره مربـع مسـاحت کـې جـوړ شـوی دی، چـې پـه يـوه وخـت کـې د ۱۵۰۰ لمونـځ کوونکـو ظرفيـت لـري. دا جومـات د يـوې ګنبـدی، يـوې منـارې، د ځښـلو اوبـو د څـاه، د فاضلو اوبـو د څـاه او پـه ۱۲۰ مـتره اوږوالي سره د احاطـې ديـوال لرونکی دی.



# بشري مرستې






د الغرافي مؤسسې رياست اړمنو کسانو سره مرسته خپله ايماني او اسلامي دنده بولي.
له همدې امله يې تل هڅه کړې ده چې په سختو شرايطو کې د افغانستان د ولس تر څنګ ودرېږي.
د الغرافي مؤسسه هر کال ډول ډول توکي لکه: وريجې، غوړي، اوړه، غنم، چای، بوره، کمپلې او داسې نور د ژمی په موسم کې په اړمنو کورنيو وېشلي دي.
وروسته له دی چې اړمنی کورنی معلومی شی د محلی ادارو په مرسته دا مرستی په اړمنو کسانو ويشل کيږی.
د يادونی وړ ده چې د الغرفي قطری خيريه مؤسسی رهبری له طبيعی پېښو څخه زيانمنو شويو کورنيو او بيړنيو حالاتو ته د اهميت په سترګه ګوری او په خپلو موخو کی يی ورته لومړيتوب ورکړي دی.

# د کرونا وایروس د پراختیا له امله د کابل ښار له اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته



د الغرافي قطري خیریه مؤسسې ۲۰۰۰ اړمنو کورنیو ته چې د کرونا د خپریدو له کبله د قرنطین محدودیتونو له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړي وو د خوراکي توکو کڅوړې ووېشلې.

په دې خوراکي کڅوړو کې اوړه، وریجې، بوره، لوبیا، چای او غوړیو شتون درلود.

دا مرستې په څلورو پړاوونو کې چې په هر پړاو کې ۵۰۰ کورنې وې د کابل ښار غازي ستدیوم کې ووېشل شوې.



# د کرونا وایروس د پراختیا له کبله د عامې روغتیا وزارت ته د طبي او اړتیا وړ توکو ډالۍ کول.







د ۱۳۹۹ل کال د ثور په ۱۷ نېټه د یو ملیون او دیرش زره ډالرو په ارزښت طبي توکي د الغرافې قطري خیریه مؤسسې له لوري د عامې روغتیا وزارت ته ډالۍ شول.

په دې طبي توکو کې ۵ د پي سي آر ماشینونه، د وینتلاتور ۷ ماشینونه، د اکسیجن ٦ ماشینونه، د سکشن ۱۰ ماشینونه، یو د اکسرې ماشین، د کرونا ویروس د تشخیص یو دانه کیت، د طبي پي پي کیت ۵۰۰ کڅوړې، د ای بي جي ۳ ماشینونه، د آی ان آر ٦ ماشینونه او تر ٦۸۰۰۰۰ ډېرې ډول ډول دواګانې او طبي اړتیاوې شتون لري.




**په کابل ولایت کې روژه نیونکو باندی د روژه ماتې وېشل**

## د روژې په مبارکه میاشت کې په فراه، هرات او کابل ولایتونو کې د روژه ماتي وېشل

د الغرافې قطري خیریه مؤسسې یو ډول بشري مرستې په روژه کې د روژه ماتي وېشل دي.

دا مرستې په مختلفو ځایونو لکه: جوماتونو، دار الأیتامونو، لیلیو، او مدرسو کې وېشل کېږي.

د روژه ماتي وېشلو پروګرام هر کال په فراه، هرات او کابل ولایتونو کې د الغرافې قطري خیریه مؤسسې له لوري د روژې په مبارکه میاشت کې تر سره کېږي چې هر روژه نیونکي ته د روژه ماتي یوه کڅوړه چې وریجې، غوښه، ماسته، میوه او اوبه پکې شتون لري وېشل کېږي.




Gharrafa Foundation
Al-Gharrafa Foundation -Qatar
مؤسسة الغرافة - قطر
Sheikh Ali Bin Abdullah Thani Jasim Al Thani
Al-Gharrafa Foundation
په هرات ولایت کې روژه نیونکو
باندی د روژه ماتې ویشل
په فراه ولایت کې روژه نیونکو
باندی د روژه ماتې ویشل

**د ۱۳۹۲ال کال په ژمي کې د**
**فراه ولایت اړمنو کورنیو ته د**
**خوراکي توکو او کمپلو وېشل**






## په ۱۳۹۵ل کال کې د فراه ولایت اړمنو کورنیو ته د خوراکي توکو وېش




## په ۱۳۹۶ل کال کې د فراه ولایت اړمنو کورنیو ته د خوراکي توکو وېش



په ۱۳۹۷ل کال کې د فراه ولایت اړمنو کورنیو ته د خوراکي توکو وېش




په ۱۳۹۸ل کال کې د فراه ولایت سیلاب ځپلو ته د خوراکي توکو وېش




فراه ولایت خیر آباد دښته کې د الغرافي خیریه مؤسسې د کرنې او مالداري څېړنیز فارم



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې له موخو څخه د افغانستان د کرنې او مالدارۍ ته وده ورکول دي. افغانستان د ښه موسم، ښه کيفيت لرونکې خاورې او ډېرو اوبو په لرلو سره د کرنې او مالدارۍ لپاره يو مناسب هېواد دی.
د الغرافي قطري خيريه مؤسسه د خپلو کرنيزو موخو لاسته راوړلو لپاره د فراه ولايت ټاکلی دی. دا ولايت چې پراخه او نوې دښتې لري، د کرنې او مالدارۍ د فارمونو جوړولو لپاره ډېر مناسب دی.
د الغرافي مؤسسې نږدې ۸۰۰ جريبه ځمکه چې د خيرآباد په دښته کې موقعيت لري او د فراه ولايت د ښاروالۍ د ستراتيژيک پلان اړوند سيمه ده، د افغانستان د ځمکو له خپلواکې ادارې څخه د ۲۵ کلونو لپاره اجاره کړې ده.
د الغرافي قطري خيريه مؤسسه غواړي تر څو خپلې کرنيزې علمي څېړنې د ونو او کرنيزو محصولاتو- چې تفصيل به يې وروسته ذکر شي- او د هغو بوټو په کرلو سره پيل کړې دي چې د فراه ولايت له اقليم سره مناسب وي.







د الغرافي قطري خيريه مؤسسي په ۲۰۱۴ ز کال کې په کرنيز فارم کې د ۱۴ کسانو په ګمارلو او د خرما د ۳۰۰۰۰ نيالګيو په کېنولو سره خپل کرنيز فعاليت پيل کړ.
چې د درې کلونو له تېرېدو وروسته د خرما نيالګي شنه او په ثمر راغلل.

د الغرافي قطري خيريه مؤسسه خوشبينه ده چې ددې پروژې په تطبيق سره چې تراوسه يې په فراه ولايت کې سارى نه ليدل کېږي، د کرنې د بيارغونې لپاره يو اغېزمن ګام وبلل شي او بزګران به وهڅوي تر څو د خرما نيالګي کېنوي.





همدارنګه په ۲۰۱٦ز کال کې د الغرافي قطري خیریه مؤسسې په خپل کرنیز فارم کې ۵۰۰۰ د انار نیالګي کېنول، چې دوه کاله وروسته ترینه لومړنی محصول تر لاسه شو، خو د بزګرانو په وینا د انارو ونې ډېر وخت ته اړتیا لري تر څو قوي شي او د میوې د بار توان پیدا کړي.






په راتلونکي پړاو کې د الغرافې قطري خيريه مؤسسې په ۲۰۱٦
زکال کې د عناب ۵۰۰۰ نيالگي په کرنيز فارم کې کينول.
چې دوه کاله وروسته له نيالگيو څخه لومړنی محصول تر
لاسه او گټې اخيستلو ته چمتو شو.





همدارنگه د الغرافي قطري خيريه مؤسسې
په ۲۰۱٦ زکال کې د پستو ۲۲۰۰ نيالگي په
کرنيز فارم کې کينول.
چې دوه کاله وروسته دا نيالگي پيوند شول.





د الغرافـي قطـري خيريـه مؤسسـي پـه ۲۰۱۷ زکال
کـې د انګـورو ۲۰۰۰ نیالګـي پـه کرنیـز فـارم کـې
کینـول. چـې پایلـه یـې تـر اوسـه د قناعـت وړ ده.





په ۲۰۱۸ز کال کې د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د خپلو کرنيزو ځمکو د پراختيا په موخه په کرنيز فارم کې د زيتون ۵۰ نيالګي کينول.

د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د ۸۰۰ جريبه ځمکی لپاره چې د افغانستان له دولت څخه يی اجاره کړې ده، د ۳۷۰ سانتي متره په لوړوالي سره د احاطې ديوال جوړ کړ.
دا ديوال ټولټال ۵۱۱۰ متره اوږدوالی لري چې د تيږو او کانکريټي بلوکونو څخه په اساسي او پاخه ډول سره جوړ شوی دی، چې درې متره پکې تيږه او کانکريټی بلوک کارول شوي دي او پاتې ۷۰ سانتي متره د ديوال د پاسه ازغن تار لګيدلی دی.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په ۲۰۱۴ ز کال کې د بهرنيو او کور دننه ميلمنو لپاره چې د فارم څخه ليدنه کوي د يو ميلمستون د جوړولو کار پيل کړ.
په دې ميلمستون کې له حمام او تشناب سره د خوب ۹ خونې او درې لوی د ډوډۍ خوړلو سالونونه شتون لري.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې دوه هنگرونه د (۳۰*۱۸) متره مربع مساحت په لرلو سره په کرنيز فارم کې جوړ کړي دي، تر څو د مؤسسې او فارم اړوند ملکيتونه، تجهيزات او خوراکي توکي پکې وساتل شي.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د لمونځ د اداء کولو لپاره په چاه کرته فارم کې يو جومات په ۱۶۱ متره مربع مساحت کې د يوه تشناب او اوداسه ځاى په لرلو سره جوړ کړ.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د بريښنا او اوبو د لاسته راوړلو په موخه په کرنيز فارم کې د لمريزې انرژۍ سيستم (سولر) نصب کړی دی.
له دې سيستم څخه لاسته راغلې بريښنا د مرغانو د ساتنې او نسل اخيستنې ودانۍ، د شاهين ودانۍ، ميلمستون، د اوبو څاه او د فارم نورو اړوندو ځانګو ته وېشل شوې ده.



همدارنګه د فارم اړوند سولري بريښنا د ذخيره کولو لپاره د فارم په مختلفو برخو کې درې خونې جوړې شوې دي، چې په دې خونو کې بطرۍ او چارج کنټرولرونه چې مړه بريښنا په ژوندۍ بريښنا اړوي شتون لري.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د فارم د امنيت ساتلو په موخه په فارم کې دننه څو تنه امنيتي ساتونکي په کار ګمارلي دي او ددوی لپاره يې ۸ د ساتلو ټاورونه او ۴ خونې جوړې کړې دي.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د بزګرانو، کارکوونکو او امنيتي ساتونکو لپاره په ۳۰۰ متره مربع ځمکه کې يو تعمير جوړ کړی دی، چې يو حمام، د فاضلو اوبو څاه او ٦ خونې لري.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې یو لړ کرنیز تجهیزات او وسایل د خپلو کرنیزو موخو د پرمختګ لپاره پېرلي دي، چې په کرنیز فارم کې ورڅخه ګټه اخلي.



د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په خير اباد فارم کې د ځمکو د خړوبولو لپاره یو لوی حوض جوړ کړی دی چې ګټه ورڅخه اخیستل کېږي.





د الغرافي د قطري خيريه مؤسسې له مهمو موخو څخه دا دی چې د فراه د ولايت د نادرو مهاجرو مرغانو نسل ډېر شي.

ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د دې مرغه د نسل اخيستنې لپاره په ستندردو ودانيو جوړولو کې په پانګونه، د ماشينري په برابرولو، لابراتوار جوړولو او نورو اړينو تجهيزاتو په تيارولو لاس پورې کړی دی.

# د الغرافه کرنيز فارم کې د حباره مرغه روزنه



دالغرافي قطري خيريه مؤسسه د ښو پايلو د لاسته راوړلو په موخه، د هغو ډاکترانو او روزونکو لپاره چې له دې مؤسسې سره په کار بوخت دي، په قطر هېواد کې روزنيز ورکشاپونه او عملي کارونه وړاندې کوي.
اوسمهال د الغرافي مؤسسې په فارم کې د حباره مرغه نسل اخيستنې او روزنې په برخه کې ۳ ډاکتران او روزونکي او ٦ مسلکي کارکونکي په کار بوخت دي.





د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په خپل فارم کې چې د خير آباد په دښته کې موقعيت لري يو تعمير او ۳٦۰ پنجرې د حباره مرغه د نسل اخيستنې او روزنې لپاره جوړ کړې دي.
په دې ودانۍ کې ډول ډول خونې او وسايل شتون لري چې د حباره مرغه د هگۍ اچونې له پړاو نه تر بچو لاسته راوړنې پورې ترې گټه اخيستل کېږي.



د حباره مرغه لپاره
د درملو ساتنې خونه



د حباره مرغه د
خوړو د پروسس
خونه



د نارغیو د درملنې
لپاره د لابراتوار خونه



د حباره مرغه د بچیانو
د ساتنې خونه



د الغرافې قطري خيريه مؤسسې د حباره مرغه او نورو نادرو مرغانو د ساتنې لپاره په خپل کرنيز
فارم کې د څو پړاوونو په ترڅ کې ۴۰۰ پنجرې جوړې کړې دي.
چې له دې څخه ٣٦٠ پنجرې د حباره مرغه د ساتنې او پاتې يې د نورو
مرغانو د ساتنې لپاره دي.
د الغرافې مؤسسه په پام کې لري تر څو د نسل او
بچو اخيستنې څخه وروسته د اړتيا په
اندازه نورې پنجرې جوړې
کړي.





ددې ټولـو کوښښـونو پایلـه دا وه چـې تـر ۲۰۰۰ ډېـر  حبـاره مرغـان وروزل شي. پـه دې توګـه هـر کال  پـه اوسـط ډول لـه ۴۰۰ څخـه تـر ۵۰۰ مرغانـو د نسـل اخیسـتنه شـوې ده.

وروسته لـه دې چـې د ا مرغـان د طبیعـي ژونـد او الوتلـو اړونـد شرایـط ترلاسـه کـړي، د فـراه ولایـت لـوړ رتبـه چاروکـو پـه شـتون کـې پهـازاد طبیعـت کـې پریښـودل کېـږي، چـې اړونـد راپورونـه یـې پـه ټولنیـزو شـبکو کـې خپـاره شـوي دي.





# د شاهین د روزنې مرکز

د الغرافې قطري خیریه مؤسسه، په فراه ولایت کې د وحشي بازانو روزنې او د نسل اخیستنې لپاره یوه ودانۍ په خپل کرنیز فارم کې چې د خیر آباد په دښته کې موقعیت لري جوړه کړې ده.

دا ودانۍ په مدرنه بڼه جوړه شوې ده، چې د جوړولو په چارو کې یې ټول اړوند سټنډرډونه په نظر کې نیول شوي دي، چې د شاهین د الوتلو لپاره ډېره ښه فضا برابروي.

په دې مرکز کې، د بازانو څخه د هګیو اچونې له پړاو څخه تر روزنې او نسل اخیستنې ساتنه کېږي، تر څو په دې توګه دا مرغه د نسل له منځه تللو له ګواښ څخه وژغورل شي.







دالغرافي قطري خيريه مؤسسه د ښو پايلو لأسته راوړلو په موخه، هغو ډاکترانو او روزونکو ته چې له دې مؤسسې سره په کار بوخت دي، په قطر هېواد کې روزنيز ورکشاپونه او عملي کارونه وړاندې کوي.

اوسمهال د الغرافي مؤسسې په فارم کې د شاهين مرغه د نسل اخيستنې او روزنې په برخه کې يو ډاکتر او روزونکی او ۳ مسلکي کارکونکي په کار بوخت دي.





د الغرافي مؤسسې په کرنيز فارم کې په شاهين او توقدار مرغانو سربېره نور ژوي او مرغان هم د نسل اخيستنې او تکثير په موخه ساتل کېږي، لکه: طاووس، غرڅه، شترمرغ، غرنۍ وزه، سوی، هندي وزه، تاجداره مرغه، سپينه زرکه، وطني زرکه، هيلۍ، بته، کوتره، قمري، تارو، سياسينه، قرقولي مرغه، بلدر چين او سي سي.




















د الغرافي قطري خيريه مؤسسې د غرنيو وزو د نسل د ډېروالی او ساتلو
لپاره په خپل کرنيز فارم کې يو ځای د غونډۍ د پاسه جوړ کړی دی.





د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په خپل کرنيز فارم کې د بودنې مرغه د ساتلو او د نسل د تکثير لپاره پنجرې جوړې کړې دي.





د الغرافي قطري خيريه مؤسسې په خپل زراعتي فارم کې د پسنو د ساتلو، روزنې او د نسل تکثير لپاره ۳۲ جريبه ځمکه جلا کړې ده.
د الغرافي مؤسسه هيله لري چې د مالدارۍ ددې لوی فارم په جوړولو سره به مالداران ښې پايلې لاسته راوړي او وبه هڅول شي تر څو د پسونو د نورو نسلونو څخه چې د الغرافي مؤسسه يې له بهر نه واردوي ګټه پورته کړي.
ددې پروژې په تطبيق سره به د پسونو پلورلو او پېرلو بازار لا تود شي او د مالدارانو اقتصادي په وضعيت کې به د پام وړ ښه والی راشي.



# د فراه ولایت چاه کرته په دښته کې د الغرافي طبیعی خوندي سیمه

د الغرافي قطري خیریه مؤسسې د افغانستان د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې په همغږۍ سره کوښښ کوي تر څو د طبیعي خوندي سیمی په رامنځته کېدو سره د وحشي ژویو ډولونه، د هغو ژویو ډولونه چې د لمنځه تللو له ګواښ سره مخامخ دي او د هېواد له طبیعي ایکو سیستم نه ساتنه وکړي.
ددې پروژې د تطبیق لپاره مناسب ځای د فراه ولایت دی، ځکه چې د پراخې صحرا لرونکی دی.
ددې ځای د انتخاب یو لامل دا دی چې دا ځمکه بکره ده، په دې مانا چې تر اوسه پکې هېڅ ډول کرنیز فعالیت نه دی ترسره شوی او د بهرنیو او وطن دننه مؤسساتو له لوري په دې هکله هېڅ ډول پانګونه نه ده شوی.





د الغرافي قطري خیریه مؤسسې د ۵۰۰۰ جریبه ځمکی لپاره چې
د افغانستان له دولت څخه یی په اجاره نیولې ده د احاطې
دیوال د ۳۷۰ سانتي متره په لوړوالي سره جوړ کړ.
دا دیوال ټولټال ۱۳ کیلو متره او ۷۶۰ متره اوږدوالی
لري چې په اساسي ډول سره د تیږو او کانکریټي
بلوکونو څخه جوړ شوی دی.
ددې تر څنګ ددې فارم د امنیت ساتلو
لپاره د احاطې پر دیوال باندی
۱۵ د ساتونکو ټاورونه جوړ
شوي دي.



د الغرافي قطري خیریه مؤسسې د
لمونځ د اداء کولو لپاره په چاه کرته
فارم کې یو جومات په ۱۶۱ متره
مربع مساحت کې د یوه تشناب او
اوداسه ځای په لرلو سره جوړ کړ.

## د چاه کرته فارم لوی میلمستون

د الغرافي قطري خیریه مؤسسې د بهرنیو او کور دننه میلمنو لپاره چې د چاه کرته فارم څخه لیدنه کوي، یو میلمستون جوړ کړی دی.

په دې میلمستون کې له حمام او تشناب سره ۱۲ د خوب خونې، دوه د ډوډۍ خوړلو لوی سالونونه او پخلنځی شتون لري.



## د چاه کرته فارم کوچنی میلمستون

د الغرافي قطري خیریه مؤسسې د هغو میلمنو لپاره چې د چاه کرته له فارم څخه لیدنه کوي، یو کوچنی میلمستون جوړ کړی دی.

په دې میلمستون کې ۷ د خوب خونې او دوه پخلنځي شتون لري.



## د چاه کرته فارم د کارکوونکو لپاره خونه

د الغرافې قطري خيريه مؤسسې د بزرگرانو، کارکوونکو او امنيتي ساتونکو لپاره يوه ودانۍ جوړه کړې ده.
ددې ودانۍ مساحت ۳۰۰ متره مربع دی، چې ۴ خونې او يو پخلنځی پکې شتون لري.



## په چاه کرته فارم کې د زيانمنونکو مرغانو لپاره د ساتلو ځای



## په چاه کارته فارم کې د شتر مرغ د ساتلو ځای



## په چاه کارته فارم کې د هیلۍ د ساتلو ځای



## په چاه کارته فارم کې د غرڅه د ساتلو ځای



## په چاه کارته فارم کې د پسانو د ساتلو ځای



**په افغانستان کې د الغرافې قطري خيريه مؤسسې فعاليتونه**
**له ۲۰۱۴ څخه تر ۲۰۲۲ز کال پورې**

د چاپ کال : ۱٤۰۰ ل
عکاس او ډيزاين: عبدالغنی عبد اللهی
د مؤسسې پته: افغانستان، کابل، څلورمه ناحيه، د درېيمې او څلورمې
څلورلارې تر منځ، د قصر زرين تر څنګ کوڅه.
شميره: ۰۰۹۳۷۰۰۸۸۸۸٥٤
ايميل آدرس: info@algharrafa.org.af

د الغرافې مؤسسې د ويبسايټ د ليدلو لپاره دا کوډ په خپل موبايل کې سکن کړئ.

